**زده کونکو او سرپرستانو لپاره د انټرنټ د کارولو قرارداد**

**دا زده کونکی**

ما د پرووایډېنس تعلیمي حوزې "د انټرنیټ د منلو وړ کارولو پالیسي" لوستلې ده او د دې غوښتنې لپاره شبکې ته د لاسرسي، او د شبکې د سرچینو د منلو وړ کارولو لپاره د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې په قوانینو باندې پوه او د منلو هوکړه یې کوم.

زه پوهېږم چې زه د بهر ټیلیفون، چاپ، او سوداګریزو توکو د پیرودلو په ګډون چې د شبکې له لارې ترسره شوي وي، د ټولو لګښتونو او فیسونو د ادا کولو مسؤل یم. د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزه د دا ډول معاملاتو کوم اړخ نه دی او د هېڅ ډول لګښتونو یا تخریب، مستقیم یا غیر مستقیم، چې د کارونکي لخوا د شبکې د معاملاتو له امله رامنځته کیږي، مسؤلیت پر غاړه نه لري.

د دې سربېره، زه تصدیقوم چې د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې د کمپیوټر شبکه یواځې د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې پورې اړه لري او دا چې هر ډول فایلونه، ریکارډونه، بریښنالیک یا نورې اړیکې ښایي په هر وخت کې د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې لخوا د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې د پالیسی او مقرراتو پربنسټ معاینه ، تصحیح یا حذف شي. په عمومي ډول سره، د شخصي حسابونو بریښنالیکونه به د رالیږونکي یا ترلاسه کونکي له رضایت څخه پرته، مګر دا چې د یو شکایت پلټنه اړینه وي، و نه لیدل شي.

زه همداراز پوهیږم چې که چېرې زه کوم تخلف ترسره کړم، زما لاسرسی به ښایي لغوه شي، او د ښوونځي ډسپلیني او/یا مناسب قانوني اقدام به ترسره شي. د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې د شبکې د ارتباط د کارولو او عامه شبکو ته د لاسرسي لرلو په پام کې نیولو سره، زه پدې ډول سره د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزه او د هغه د ښوونځي د مدیره هیئت غړي، کارکونکي، او استازي زما لخوا د شبکې د کارولو، د کارولو د وړتیا نه لرلو له امله د هر ډول رامنځته شوو ادعاوو او تخریبونو لپاره بې مسؤلیته ګڼم.

زه پدې پوهیږم چې د انټرنیټ کارول یو امتیاز دي، حق نه دي. زه همداراز پدې هم پوهیږم چې له پورته لارښوونو څخه هر ډول تخلف به زما د انټرنیټ د امتیاز د سمدستي لغوه کېدو پایله ولري، او د دې ډول تخلفاتو له امله به ښایي لا ډېر ډسپلیني اقدامات ترسره شي.

____________________
د زده کونکي چاپ شوی نوم

____________________      ____________
د زده کونکي لاسلیک      د لاسلیک نېټه

**والد/سرپرست**

زه د پورته یاد شوي زده کونکي والد/سرپرست یم. ما د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې د "د انټرنیټ د ملنو وړ پالیسي" لوستې ده او زه د هغه په ټولو احکامو، مقرراتو، قوانینو باندې پوه او ورسره موافق یم. زه پدې ډول سره خپل ماشوم ته اجازه ورکوم ترڅو د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې لخوا چمتو شوې انټرنټي چوپړتیا وکاروي. زه پدې پوهیږم چې زما ماشوم اړ دی ترڅو دا پالیسي ومني. زه همداراز پوهیږم چې د دې احتمال هم شتون لري چې زما ماشوم په انټرنیټ کې داسې مالوماتو ته لاسرسی پیدا کړي چې زده کونکو لپاره مناسب نه وي او دا چې د پرووایډېنس عامه تعلیمي حوزې په ښوونکو او کارکونکو باندې به هر ډول مناسبه هڅه ترسره شي ترڅو دغه ډول مالوماتو ته لاسرسی محدود کړي، مګر په پای کې به زما ماشوم له نامناسبو مالوماتو څخه د ډډې کولو مسؤلیت په غاړه ولري.

____________________________

د والد/سرپرست نوم

____________________________ ______________

د والد/سرپرست لاسلیک د لاسلیک نېټه